**IQBAL REVIEW** (65: 2)
(April – June 2024)
ISSN(p): 0021-0773
ISSN(E): 3006-9130

# ځوان نسل ته د اقبال د تلپاتې سولې او پرمختګ مفکوره

ڈاکٹر لال پاشا آزمون

ABSTRACT

Allama Iqbal's thinking is based on a great humane and Islamic society. His desire was to unite Muslims with Islamic values. Resultantly Muslims will be the leader of the humanity. It is necessary to pay attention to thinking of Allama Iqbal which is based on Islamic principles. A Muslim should give a helping hand to a Muslim and not to push him away, or create disunity among the people of the society. Now the world has turned into a village, Iqbal as a thoughtful poet gathered the people of the society with the values. Afghans are the heart of Asia, so let's talk about Iqbal and light the torches of the way, create an atmosphere of brotherhood, dignified peace and stability and not to alienate ourselves. As a whole, Iqbal presents the idea of unity and life to the new generation, he sees the development of Islamic society and self-determination in unity. He calls the young generation to get knowledge and nurture their high values.

**Keywords:**
Islamic Society, Islamic Values, Islamic Principle, Afghan Society, Unity, Brotherhood

رومانی شاعرۍ نازو انا، د لوی امپراتور مور زرغونې بي بي، د میوند ملالۍ، د شهنامې زرخېزې شاعرانه سیمې اتلانو، د انساني ارزښتونو شاعر مولینا بلخي، د زمانې ننګیالي شاعر حضرت خوشحال خان ختک، لوی احمد شاه بابا، سیدجمال الدین افغان او د آزادۍ ناجي شاه امان الله غازي چې اقبال ورته عقیدت لاره او ترې زده کړه یې کوله، پاپلۍ اخستې دي.

هغه وطن چې اقبال یو پیکر او افغان ملت یې پکې زړه بللی و ـ نن په هغه وطن کې د انسان روزونکې پر مخ د زده کړې دروازې تړل شوې دي، دنیا یې هم په غږ خپل غوږونه کاڼه کړي دي.

زما هیله د کنفرانس له ګډونوالو دا ده چې د علامه اقبال د روح د خوشحاله کولو لپاره د لوی کور ګران افغانستان د انجونو پر مخ د زده کړې دروازې پرانستلو غږ پورته کړئ، هغوی هم ستاسې په څېر د ژوند کولو حق لري.

## لنډیز

هر شاعر په ټولنه کې ځوان نسل ته سولې او پرمختګ لپاره یوه ځانګړې ایډیالوژي او تګلاره لري، اقبال د یوه مفکر شاعر په توګه تلپاتې سولې، ثبات او پرمختګ ته له اسلامي او انساني لیدلوري ګوري.

دده ذهن انساني او زړه یې اسلامي دی، د انسانیت او اسلامیت په ګډو ارزښتونو کې د یوې ټولنې ثبات، تلپاتې سوله او پرمختګ ګوري.

اقبال د یوه ژمن مسلمان په توګه د سولې او پرمختګ راز په فکري او نفسي ازادۍ کې ویني، فکري او نفسي ازادي دده په خودۍ کې نغښتې.

اقبال د یوه مفکر شاعر په توګه خپل ذهن او فکر په یوې محدودې جغرافیې کې نه راایساروي، دی لومړي د یوه مسلمان ملت جوړونې فکر وړاندې کوي، په ملت جوړونه کې د ټولنې سوکالي او ثبات ویني. د ټولنې پرمختګ او هوساینه هم په سوله، صمیمیت، محبت او انسانیت کې ګوري.

د اقبال مفکوره د سولې او پرمختګ لپاره د بشرحقونو تامین، په ټولنه

کې عدالت، دعادلانه نظام ټینګښت، د ژبو، قومونو، ملتونو او مملکتونو تر منځ یووالي، ګډ تفاهم، بشرپالنه، انسانیت او وطندوستۍ ده. اقبال د خپلو مشاهیرو ډیوو ته کښني او هغه تر نورو د خپل چاپېرچل د رڼولو، ذهني او فکري کچې د لوړولو لپاره غوره بولي. دی په دې اند دی چې د یوې مسلمانې ټولنې او مسلمان ملت لپاره خپل بنسټونه د سولې او پرمختګ لیتکي دي، نو غوره دا ګڼي چې لومړی باید د خپلې تیورۍ پر شراغ د سولې، ثبات او پرمختګ ټغر وغوړول شي.

دی تلپاتې سوله، ثبات او پرمختګ د ټولنې په فکري او نفسي آزادۍ او خودۍ کې ویني. خودي ځان پېژندنه ګڼي، ځان پېژندنه د آزادۍ لومړنی بنسټیي اصل دی، ځان پېژندنه له خپل نفس نه آزادي ده. یوه ټولنه هغه مهال تلپاتې باعزته سولې، ثبات او پرمختګ ته رسېدلی شي چې هغه په فکري او نفسي لحاظ آزاده وي. بشري حقونه او عدالت پکې تامین وي.

اقبال د یوه وطنپرست، متددین او متمدن انسان په توګه کله چې یورپ او غرب ګوري، نو دده تفکر له دغې لیدنې کتنې دې پایلې ته رسي چې هر انسان پخپل کولتور او تهذیب ښایسته دی، نو مسلمان باید خپل کولتور او تهذیب وپالي، د خپلو مشاهیرو او لویو خلکو خبرو او تجربو ته پر نورو لومړیتوب ورکړي. د دوی تجربې د ټولنې دردونو ته ښه درمل کېدای شي. له دې لیدنو کتنو یې دا پایله هم واخسته، ددې لپاره چې مسلمان نسل د نورو ټولونو د پرمختګ، عصري ژوند او تمدن تر اغېز لاندې داسې رانشي چې بیا خپله ټولنه او خلک هېر کړي، نو دا یې اړینه وګڼله چې مسلمانان باید د یووالي او اتفاق له لارې ځان له نورې دنیا سره سیال کړي او یوه عصري متمدنه ټولنه رامنځته کړي، دوی باید په فکري، ذهني او د ژوند په نورو چارو کې له پرمختګ او تمدنه وروسته پاتې نشي.

## سریزه

په دې لیکنه کې د علامه اقبال د تلپاتې باعزته سولې، ثبات او پرمختګ

مفکوره دده له فارسي شاعرۍ او له پښتو منظومو ژباړو څخه را څرګنده شوې ده. هڅه شوې چې په ټولیز ډول د سولې، ثبات او پرمختګ په باب دده ایډیالوژي او لیدلوری راڅرګند شي.

اقبال په ټوله کې د یوه مفکر او ژمن مسلمان شاعر په توګه په ټولنه کې د سولې، ثبات او پرمختګ اساس د ملت جوړونې، حکومتولۍ، بشري ټولنې په رامنځته کولو، ټولنیز عدالت، بشري حقونو په تامین او یو بل ته په درناوۍ کې ګوري.

په دې لیکنه کې دده فارسي دیوان لومړنی ماخذ او اساس دی.

## موخه

ددې لیکنې یوازینۍ موخه دا ده چې د ځوان نسل په رزونه او پالنه کې د اقبال د تلپاتې او باعزته سولې او ثبات مفکوره وړاندې شي چې د ټولنې د پرمختګ، ټولنیز عدالت او ښې حکومتولۍ بنسټ ږدي.

په دې کار او چارې اقبال دنیا ته د مسلمان ملت د سوله ییز، بشردوست او وطن دوست شاعر او استازي په توګه معرفي کول دي، دنیا ته دا ښودل دي چې د ختیزې ټولنې اساس په سولې، ثبات، خودۍ، بشردوستي او انسانیت ولاړ دی.

## ارزښت

ارزښت یې دا دی چې دنیا او مسلمانان باید د تلپاتې او باعزته سولې، ثبات او پرمختګ ژوند د علامه اقبال په شعر او مفکوره کې وګوري، دا به ور ته ثابته شي چې د اقبال د نظر دنیا او چاپیریال د سولې او ثبات چاپیریال دی.

## کلمې

اقبال، سوله، ثبات، پرمختګ، خودي، فکر، آزادي، ځانپېژندنه، یووالی، ژبه، انسانیت، عدالت...

## د څېړنې پوښتنې

۱. اقبال په ټولیزه توګه د یوې بشري ټولنې د ټینګښت او پر مختګ راز په څه کې ګوري؟

۲-د اقبال په فکر تمدن، سوله او ثبات یعنې څه؟

۳ -د اقبال له نظره یوه ټولنه څنګه پرمختګ کولی شي؟

## د څېړنې فرضیه

اقبال د ځوان نسل د روزنې لپاره د ټولنې پرمختګ په تلپاتې سوله او ثبات کېویني.

## د څېړنې مېتود

په دې څېړنه کې له کتابتونه ګټه اخستل شوې ده، نو مېتود یې تشریحي دی.

## متوقعې پایله

له دې څېړنې به دا جوته شي چې اقبال د یوه ژمن شاعر په توګه په ټولنه کې د تلپاتې سوله او ثبات د ټولنې د پرمختګ بنسټونه بولي. دده له نظره د ژبو او قامونو په یووالي کې د ټولنې فکري او ذهني کچې لوړول نغښتي.

## دموضوع شالید

تر دا دمه د علامه اقبال د ژوند، فکر او مبارزې په باب خورا ډېر ځانګړي کتابونه او بېلابېلې لیکنې شوې دي، په دې لیکنو کې یوه هم دغه لیکنه ده چې ستاسې مخ ته پرته ده.

## اصلي متن

### ۱. تلپاتې سوله او ثبات

تر هر څه وړاندې باید پر دې پوه شوو چې تلپاتې سوله څه ته وایي؟

په ټولیزه توګه سوله د جنګ او تاوتریخوالي پر وړاندې د مینې، انسانیت، صمیمت او محبت نوم او مفهوم دی. سوله پخپله لمن کې ټولنیز عدالت، ورورولي او بشری حقونو ته درناوی رانغاړي. سوله د انسان خودي او ځان

پېژندنه، له ځانه، وګړيو او ډلو ټپلو نه فکري آزادي ده. فکري آزادي د انسان خودارادیت او د نظر څرګندول یا اظهار دی. سوله د انسان ذهن د بل له وېرې، تاو تريخوالي او تشدده ژغوري. سوله د انسان په فکري او ذهني وده کې ونډه اخلي.

یوه ژوندۍ ټولنه په فکري آزادۍ کې د مینې، انسانیت، صمیمت او محبت دنیا رامنځته کوي، د ټولنو د وګړيو ترمنځ اړیکه د فکري آزادۍ، خودۍ او له دې لارې په علمي، ټولنیزو، فنی او هنري بنسټونو رامنځته کېږي.

یوه ټولنه په سوله کې د ارام ساه باسي، د آرام ساه ایستل فکري او ذهني مبارزې ته لاره برابروي، فکري او ذهني مبارزه د پوهې، هنر او فن له لارې وګړي نږدې کوي او یو له بله سره په مینه او صمیمیت یو ځای کوي.

تلپاتې سوله: سیاسي ګډون، ولسواکۍ، کولتوري، ملي او دیني ارزښتونو ته ژمنتیا، د ټولنیز عدالت، بشري حقونو تامین، ښوونیزې، روزنیزې، اقتصادي ودې، پرمختګ او پراختیا له لارې خلکو ته خدمت کول او سهولتونه برابرول دي.

تلپاتې سوله: د خلکو په خوښه، تفکر، ذهنیت، ارادې او سیاسي ګډون حکومت او حکومتولي ده. کله چې تلپاتې سوله رامنځته شوه، نو ټولنه ټولنیز او سیاسي ثبات مومي.

ثبات: د تلپاتې سولې ټینګښت او یوه عادلانه نظام پایښت دي.

د تلپاتې سولې ټینګښت او عادلانه نظام پایښت د ټولنې پرمختګ دی.

ثبات د هغه نظام پایله ده چې د ولسواکۍ پر بنسټ، ملي حاکمیت خوندي کړي او د غورې حکومتولۍ په وسیله پایداره سوله، د قانون حاکمیت، د وګړو امنیت او متحرک اقتصاد تامین کړي.[۱]

زموږ د ټولنې ثبات پر اسلامي او ملي ارزښتونو ولاړ دی...د ثبات پر وړاندې یو لوی خنډ د سیاسي قشر تر منځ نفاق، د واک پر سر خپلمنځي شخړه، د بنسټیې اجماع نشتوالی، د ممبر او تخت ترمنځ واټن، د مثبتې سیالۍ

پر ځای یو د بل پښنو ته ګټې غورځول او...

## ۲. د اقبال د تلپاتې سولې او ثبات تفکر

اقبال د یوه لوی مفکر شاعر په توګه د ټولنې رغښت او پرمختګ په تلپاتې سوله او ثبات کې ويني. دغه تلپاتې سوله، ټولنيز او سياسي ثبات يو ملت په فکر راټولوي. فکري ټولنه يو ملت جوړوي، نو:

ملت جوړونه د يوه ملت سياسي، کولتوري او ټولنيز تفکر څرګندونه او هويت ښودل دي.

د ټولنې لوی خلک تر هر څه وړاندې د خپل ملت سياسي بصيرت، کولتوري او ټولنيز تفکر په رڼا کې د هغوی هويت څرګندوي.

د يوه ملت وګړي د خپل تفکر د څرګندولو لپاره تر هر څه وړاندې ذهني او فکري آزادۍ ته اړ دي، ذهني او فکري آزادي د ټولنې د وګړيو فکري کچه لوړوي، له دې لوړتيا سره ټولنه وده کوي، د ټولنې وده د وګړيو په ذهني پراختيا او شعوري مبارزه کې نغښتې ده.

کله چې د انسان شعوري او فکري کچه لوړېږي، ذهن پراختيا مومي، نو په ټولنه کې تاوتريخوالی او تشدد له منځه ځي.

د انسان ذهن له وېرې خلاصېږي. کله چې د انسان ذهن له وېرې وژغورل شو، فکري آزادي او د نظر څرګندولو فضا پراخېږي، په فکري آزادۍ کې د انسان ذهن او نظر پراخېږي، دې سره په ټولنه کې د ټولنيز عدالت، وروروليۍ او بشري حقونو د درناوي فکر غښتلی کېږي.

نو په ټوله کې سوله د انساني ذهنيت پراختيا، پرمختګ او فکري کچې د لوړولو نوم دی. سوله او پرمختګ انساني ټولنه رامنځته کوي، دغه دواړه مفاهيم يو له بله سره تړلي دي، سوله کې پرمختګ دی او په پرمختګ کې سوله ده. سوله د انساني فکر لپاره بستر غوړوي، روزي يې، دغه روزنه فکر او ذهن ته وده ورکوي، فکري رزونه او وده د ټولنې په خير او پرمختګ تماميږي.

اقبال د بشري ټولنې پرمختګ پر يوې مفکورې د راټول شويو وګړيو ملت

جوړونه، تلپاتې سوله او سیاسي ثبات ګټي.

دی وګړي د یوه ژمن انسان په توګه پر هغه ارزښت را ټولوي چې هغه د دوی ترمنځ ګډ دی، باور او عقیده پرې لري. دغه باور او تفکر یو ملت جوړوي. د ملت په جوړېدو کې تلپاتې سوله، سیاسي ثبات او د ټولنې ذهني استقرار او پرمختګ نغښتی دی.

اقبال د یوې باثباته فکري ټولنې د جوړوېدو لپاره واړه بریدونه له منځه وړي، د لوی فکر ټغر هواروي او وایي چې یوه ټولنه هغه مهال پرمختګ کولی شي چې هغه د خپلو ګډو ارزښتونو او ژمنتیا پر ټغر را ټوله شي. دی د همدغه فکر لپاره د یو ژمن مسلمان په توګه دین یو ګډ نغری بولي، له دغه نغري ورو ورو دانسانیت او بشریت کړۍ ته ننوځي چې هلته بیا دذهني ودې او پراختیا له مخې ورسره معیار لوړېږي.

## ۳. بهرنۍ دنیا او اقبال

د اقبال تفکر، ذهنیت او سیاست دا دی چې له بهرنیو هېوادونو سره اړیکه، راشه درشه، د هغوی له پوهې او هنره ګټه اخستل دا د اسلامي ټولنې د پرمختګ لپاره یو ګټور او ارزښمن کار دی. د دنیا سیاست هم دا دی چې یو له بله سره سوداګریزې، پوهنیزې او هنري تجربې شریکې کړي. د هېوادونو ترمنځ تعاملاتو، متقابل درناوی او راشه درشه یو بنسټ دی. دغه اړیکې باید د خپلو ارزښتونو او باورونو په رڼا کې وپالل شي.

دی د یوه وطنپرست، متدین او متمدن انسان په توګه کله چې یورپ او غرب ګوري، نو دده تفکر له دغې لیدنې کتنې دې پایلې ته رسي چې هر انسان پخپل کولتور او تهذیب ښایسته دی، نو مسلمان باید خپل کولتور او تهذیب وپالي، د خپلو مشاهیرو او لویو خلکو خبرو او تجربو ته پر نورو لومړیتوب ورکړي. د دوی تجربې د ټولنې دردونو ته ښه درمل کېدای شي. له دې لیدنو کتنو یې دا پایله هم واخسته: ددې لپاره چې مسلمان نسل د نورو ټولونو د پرمختګ، عصري ژوند او تمدن تر اغېز لاندې داسې رانشي چې بیا خپله

ټولنه، دین او خلک هېر کړي، نو دا یې اړینه وګڼله چې مسلمانان باید د یووالي او اتفاق له لارې ځان له نورې دنیا سره سیال کړي او یوه عصري متمدنه ټولنه رامنځته کړي، دوی باید په فکري، ذهني او د ژوند په نورو چارو کې له پرمختګ او تمدنه وروسته پاتې نشي.

## ۴. د اقبال ارمان او موخه

ادب په ټوله کې د یوې بشري ټولنې فکري، ذهني او کولتوري وده ده، ادیب د ټولنې هغه سترګور او مفکر انسان دی چې ذهن یې د بشري ټولنې ارامي، سوکالي او پرمختګ لپاره مبارزه کوي، په دې هڅه کوی چې بشري ټولنه څنګه له اسارت، تاوتریخوالي، وېرې او تشدده وژغوري. انسان باید لومړی خپله له خپل ځانه آزادي واخلي، له خپل نفس سره مبارزه وکړي، له نفس سره مبارزه د انسان فکر او ذهن له تشدد او کرکې ژغوري، د مینې، خلوص او صمیمیت دنیا ته یې رابولي.

او بیا شاعر خو د علامه اقبال له نظره د ملت سترګې دي:

«علامه اقبال شاعر چشم ملت است و هر ګاه در عضوی از اعضاء بدن در دی بوده چشم ګریه میکند!»[۲]

د ټولنې هر وګړی په تېره شاعر او ادیب تلپاتې سولې او ثبات ته د رسېدو لپاره یو ارمان او هدف لري. ارمان او هدف ټولنه په معنوي او مادي لحاظ پرمختګ ته برابروي.

لوی خلک لوی ارمان لري، د دوی ارمان د ټولنې او د ټولنې د وګړیو ذهني او فکري پرمختګ او پراختیا ده، د نظر آزادي ده، دغه ارمان د ټولنې لپاره د سولې او پرمختګ هدف ګرځي. ددغه هدف تر سره کولو یوه لاره او وسیله ادب دی.

اقبال د یوه سترګو ادیب او شاعر په توګه په لومړي سر کې د یوې هوسا او فکري ټولنې ارمانجن دی. د بشر هوساینه په تلپاتې سوله او ثبات کېویني. دغه هوساینه د انسان ذهن پراخوي او د بشري ذهنیت پر اساس په ټولنه کې د یوې مفکورې

له لاري ملت جوړوي. دده ملت جوړونه یوازې او یوازې د قامونو یووالی نه دی، بلکې دی قامونه په یوه مفکوره، ارزښتونو، ذهنیت او ژمنتیا را ټولوي او ملت ترې جوړوي. د داسې ملت جوړېده ورو ورو په یوې نړیوالی. دنیا بدلېږي چې بالاخره ملتونه د یوه ګډ بشري ارزښت او انسانیت پر ټغر سره راټولېږي.

کاروانش را درا از مدعاست
زندگانی را بقا از مدعاست
اصل او در آرزو پوشیده است
اندکی در جستجو پوشیده است
غیر حق میر د چو او گیر د حیات
دل ز سوز آرزو گیر د حیات [۳]

هر شاعر پخپل زړه کې یو ارمان لري، د ارمان پر وزرونو ځان هدف ته رسوي، اقبال په لویه کچه په اسلامي تهذیب د یو ملت د جوړېدو او اسلامي ټولنې د پرمختګ فکر لري:

اې اقباله! یوه ورځ به، د لیلا په منزل ورشې
یو څو ورځې مزلونه، وکړه نور هم پېدیا

+++

بیا باد د بهار راغی، اقباله! غزلخوان شه
غوټۍ که یې نو ګل شه، که ګل یې نو ګلستان شه [۴]

علام اقبال یو له هغو کسانو څخه و چې پخپله علمي، فکري او هنري مبارزه کې د ټولنې آرامي غوښتې، د سولې په ټینګښت کې یې د ټولنې پرمختګ لیدلی دی. نو دلته یې دغه لوی ارمان او هدف په څو ټکو کې خلاصه کوو:

## ۴.۱. دینپالنه

لوی خلک پر ځان متکي او ژمن خلک وي، دوی د ټولنې ملي او دیني بنسټونو ته ژمن وي، دین د ټولنې د وګړیو د را ټولېدو یو ګډ نغری ګڼې، د

شرقي ټولنې يو لوی بنسټ چې دا خلک پرې را ټول دي، هغه دين دی.

علامه اقبال تر هر څه وړاندې يو ژمن مسلمان دی، دده فکر او شعور د اسلام په رڼا روڼ او منور دی. په يوه مسلمانه کورنۍ کې زېږېدلی، د جومات سبقونه يې ويلي، پر دين يې ځان پوه کړی، بيا يې د يو ژمن او باشعوره مسلمان په توګه د اسلامي بنسټونو په رڼا کې خپلې ويناوې او ليکنې کړې دي.

د يو مفکر په توګه يې دين خلکو ته ښودلی دی. په خپلو هنري او علمي تجربو کې يې د دين اساسات وړاندې کړي دي. دغه اصل دی له يوې محدودې جغرافيې په يوې لويې جغرافيې ور ګډ کړی دی. دی د همدغه تفکر له مخې د يوه مسلمان ملت لوی استازی ګڼلی شوو. دی د تلپاتې سولې او ثبات په رڼا کې د ټولنې پرمختګ په دينپالنه او پر دين باندې را ټوليدو کې ويني.

تر ټولو مهم ټکی دا دی چې دی دين د دين لپاره نه د ژوند لپاره يو اساس بولي، ژوند حرکت او ښکلا ګڼي. د ژوند حرکت او ښکلا يوه ديني اصل دی. اقبال په ژوند ميين او د ژوند شاعر دی، ژوند حرکت دی، حرکت ساه ده، هغه ژوند چې په هغه کې حرکت نه وي، هغه بې ساه دی. بې ساه تن، هغه تن چې د ژوند لپاره حرکت او پيغام و نه لري، له هغه نه خدای پاک هم بې زاره دی. ځکه خدای پاک ژوندی او د هغو خلکو پروردګار دی او ملاتړی دی چې هغه ژوند حرکت وبولي:

دا وجود ستا چې له روح سره نااشنا دی
څه عجب که اسويلی دی نا رسا دی

له بې روحه تن نه خدای ګڼه بې زاره
خدای ژوندی دی د ژوندو خلکو مولا دی[۵]

دی روح د بدن شاهانه نڅا بولي، نڅا هغه روح دی چې کالبوت په حرکت کې راولي، دغه حرکت د ژوند پايښت او ښکلا ده، اقبال هغه نڅا چې ظاهري ده، هغه له تندې ډکه او ستومانونکې بولي، دا نڅا يورپ ته پرېږدي، هلته نڅا

د تن زهیرول او ستومانول دي، خو د روح نڅا د ټول عمر شاهي ده.

د تن د دې ګډا خبرې و بخښه یورپ ته
د روح ګډا کې زور لکه کلیم دی الٰهي
د تن د ګډا نخښه وروسته تنده ستوماني وي
د روح د رقص عوض وي تمام عمر له شاهي[۶]

## ۲.۴. بشرپالنه

لوی خلک دا هڅه کوي چې د یوې انساني ټولنې د رامنځته کېدو او پرمختګ لپاره کار وکړي، له دوی سره په لویه کچه بشریت او انسانیت یو لوړ معیار دی، اقبال په لویه کچه د مینې او انساني پیغام رسولو یو لوی علمبردار دی. دده له انده بشریت او انسانیت د سولې د ټینګښت او پرمختګ یو لوړ هدف دی. اقبال د جهاني فکر څښتن دی او غواړي چې وګړي د بشریت او انسانیت په فکر را ټول شي، ځکه دی پر دې باور او عقیده دی چې پرودګار د ټول عالم، انس و جنس پیدا کوونکی دی. ژبې، قامونه او بېلابېل رنګونه دا د خدای د تخیلق او قدرت رنګیني او ښایست دی.

لوی انسانان هڅه کوي چې د خپلو بشري پیغامونو له لارې ټولنه د غفلت له خوبه ویښه کړي، حرکت ته یې را وبولي، اقبال هم د یوه روڼ اندي انسان او شاعر په توګه پر خپلې ټولنې د بیدارۍ غږ په دې سکوندېنه کې کوي:

اخر یې چرته حد هم شته، چې اخلو به تر کومه
چترۍ، رومال، مفلر او، قمیصونه له جاپان نه
غفلت مو دغه شان، که چیرې پاتې شې راځي به
کابل ځنې غاسل او کفنونه له جاپان نه

+++

د مشرق تجارت ګوره، چې چلېږي به تر کومه
د ښیښې د دین عوض کې اخلي دی کوزه او جام
لېوتتوب لره علاج دی، د جدید تعلیم نشتر

او جراح زما له رګه اخلې سره وینه د قام[7]

## ۴.۳. خودي

سولې او پرمختګ ته ژمن فکر خپله خودي لري، تر هر څه وړاندې ځان پېژني، په ځان پېژندنه کې بيا ټولنه او خلک پېژني. ځان پېژندنه د انساني ټولنې رامنځته کول دي، انساني ټولنه د سولې او پرمختګ نوم دی. اقبال ځانته خودي لرله، پخپلې خودۍ کې د ځان په پېژندنه بوخت و، د ځان پېژندنې په تفکر يې ټولنه او خلک پېژندلي دي، د خلکو په پېژندنه کې دې پايلې ته رسېدلی دی چې د ټولنې پرمختګ او انساني تفکر غښتلتيا به سوله کې ده. سوله يوه انساني ټولنه په ذهني او فکري لحاظ روزي او پرمختګ ته يې بولي.

دا پيغام دی رالېږلی، ما ته باد د صبايي
عارفان چې د خودۍ دي، دی مقام يې باچاهي
ستا ژوندون دی هم له دې نه، ستا عزت دی هم له دې
که خودي لرې شاهي کړه، او که نه بيا مختوري[8]

د علامه اقبال په شعرونو کې خودي ځان پېژندل دي، د خودي مفهوم يوه پيچلې انسانې مسله ده، په خودي کې اساسي هدف د الله تعالی په اسرارو پوهيدل دي.

د اقبال له نظره خود په حقيقت کې د انسان نوراني جوهر دی، چې د انسان ارزښت ټاکنه او معيار ټاکنه د همدې خودي پواسطه کېدای شي، د خودي نور هغه نوراني رڼا ده، چې په انسان کې وي، خو پالل کېږي او تربيه کېږي، کله چې انساني خودي په چا کې پيدا شي، نو بيا د ټولنې اعضاوې سم کارونه کوي، د ده فکر، خيال او درک که ښه وي، نو د ده د خودي نماينده ګي کوي، کله چې د انسان زړه جوړ شي، د زړه نه هدف د انسان روح دی، نو بيا په ټول بدن همدا روح سمه مشري کوي او که چېرې روح جوړ نه وي، نو بيا د بدن ټولې اعضاوې سم کارونه نه کوي، وايي:

یک شعاعش جلوہ ادراک تو
جوہر نور است اندر خاک تو
زندہ یی از انقلاب ہر دمش
عیشت از عیشش غم تو از غمش
من ز تاب او من استم تو تویی
واحد است و بر نمی تابد دویی[۹]

علامه اقبال وايي: مفهوم دی: که چيرې انسان خپل دننني رغبنت ته پام وکړي او دې فکر کې شي چې الله تعالی د ده داخلي توکي څنګه پيدا کړي دي؟ هره داخلي عضوه کوم کار کوي؟ نړۍ له دې دومره پرمختګ سره تر اوسه پورې په دې توانيدلي نه دي، چې د انسان د داخلي عضوو په شان عضوې جوړې کړي، که لږ فکر وکړو، نو په خپل نظام به مين شو، ليکن ځينې خلک خپل داخلي توکيو ته فکر نه کوي، کله چې يو انسان خپل داخلي توکو ته متوجې شي، نو په حقيقت کې د ځان پېژندنې لومړنی وخت پيلېږي. دی بايد خپل ځان په ځان کې پيدا کړي، حقيقت او د الله تعالی اسرار او رمزونه په خپل ځان کې ولټوي او د الله تعالی قدرتونه دې په خپل خود کې وګوري، وايي:

پیش تو آویزم این آئینہ را
مثل گل از ہم شگافم سینہ را
می شوی زنجیری گیسوی خویش
تا نگاہی افگنی بر روی خویش
تازہ سازم داغ ہای سینہ ات
باز خوانم قصہ پارینہ ات[۱۰]

خداخواہی بہ خود نزدیکتر شو

اگر زیری ز خودگیری زبر شود
ترا آسان شود تسخیر آفاق
به تسخیر خود افتادی اگر طاق"

که غواړئ چې په کايناتو مشري وکړئ، نو اول بايد مشري په ځان وکړئ، يعنې د کايناتو پېژندلو نه مخکې د ځان پېژندل مهم دي، وايي:

می شود فرمانپذیر از دیگران
هر که بر خود نیست فرمانش روان
مرد حق شو حامل اسرار شو
از خودی اندیش مرد کار شو[12]

په حقيقت کې ځان پېژندل د نړۍ د اسرارو پېژندل دي او ځان نه پېژندل د نړۍ نه پېژندل دي، په دې اړه هم علامه اقبال وايي:[13]

تو خود را در ضمیر خود فرو ریز
بخود رس از سر هنگامه برخیز[14]

## ۴.۴. له نفس سره مبارزه

له نفس سره مبارزه د لويو خلکو عادت او تفکر دی، پر نفس حاکميت په ټولنه کې د سولې او پرمختګ سبب ګرځي. د اقبال لوی‌ې په دې کې وه چې ده د خپل نفس سره مبارزه کوله، نفسي خواهشات او غوښتنې يې تر پښو لاندې کړې وې.

د حضرت علی د وينا له مخې چې له ټولو خورا ښه پېژندل د نفس پېژندل دي.

د نفس پېژندل او پر نفس حاکميت د سولې په لاره کې يو ګام دی.پر نفس حاکميت انسان له نفسي غوښتنو او ځانځانۍ ژغوري، دغه ژغورنه په ټولنه کې بشري حقونو او ټولنيز عدالت ته درناوی دی، که يو انسان پخپل نفس حاکم نه وي، نو هغه د خپلو شخصي غوښتنو او خود غرضي په رنځ اخته

کېږي، په هر څه کې د خپل ځان لپاره هڅه کوي، دغه هڅه د ټولنې د وګړيو ترمنځ ټولنيزه، علمي او هنري اړيکه زيانمنوي، پر دغه زيان په ټولنه کې ګډوډي او بې ثباتي رامنځته کېږي، بې ثباتي د تلپاتې سولې پر وړاندې لوی ګواښ او چلنج دی. علامه اقبال د خپل انساني او اسلامي تفکر پر بنياد له نفس سره مبارزه کول د تلپاتې سولې، ثبات او پرمختګ يو لوی اساس ګڼي.

## ۴.۵: مينه او عاطفه

د لويو خلکو په زړونو کې د مينې او عاطفې چينې خوټېږي چې تل نورو ته د ګټې رسولو او پر نورو رحم خپله ايماني دنده بولي، نو مينه او عاطفه د امن او سولې بل نوم دی.

«... د اقبال په شعر کې له عشقه حقيقي عشق هدف دی، چې راز او نياز د الله تعالی سره وي او حقيقي هستي پرې ولاړه ده، په دې عشق کې د دواړو جهانو کاميابي ده، وايي:

عشق را از تیغ و خنجر باک نیست
اصل عشق از آب و باد و خاک نیست
عشق هم خاکستر و هم اخگر است
کار او از دین و دانش برتر است
عشق سلطان است و برهان مبین
هر دو عالم عشق را زیر نگین
عشق مورو مرغ و آدم را بس است
عشق تنها هر دو عالم را بس است[۱۵]

دا هغه عشق دی چې په عقل بهتري لري، په دې عشق کې ويره او شک وجود نه لري، دا عشق انسان ته عزم او يقين ورکوي، وايي:[۱۶]

عقل را سرمایه از بیم و شک است

عشق را عزم و یقین لا ینفک است[۱۷]

استغنا

گشته ئی روبه مزاج از احتیاج
ای فراهم کرده از شیران خراج
اصل درد تو همین بیماری است
خستگی های تو از ناداری است
می کُشد شمع خیال ارجمند
می رباید رفعت از فکر بلند
صورت طفلان زنی مرکب کنی
تا به کی دریوزه ئی منصب کنی
پست می گردد ز احسان دگر
فطرتی کو بر فلک بندد نظر
از گدائی گریه گر نادارتر
از سوال افلاک گردد خوارتر
بی تجلی نخل سینای خودی
از سوال آشفته اجزای خودی[۱۸]

د اقبال زړه د یوه شاعر او ذهن یې د یو لوی مفکر فیلسوف دی، د زړه خبره یې له خپلو خلکو او وطن سره د مینې ده، تفکر یې د یوه ژمن مسلمان دی چې خپل اسلامي ارزښتونه پالي او لیدلوری یې په لویه کې د انساني دنیا جوړول دي. د اقبال له نظره د مینې او خلوص دنیا او اسلامي ارزښتونه د سولې او ثبات ستنې ټینګوي. انساني لیدلوری دغه ارزښتونه پالي.

د اقبال وینا له مات زړه نه را وتی درد او چغه ده، د زړه درد او خبره خوږه وي، د خوږلنۍ راز یې په صداقت او رښتینولۍ کې دی:

ولې به په ما اقباله! خپله اشعار ښه نه لګي
ما چې له مات زړه نه د درد چیغي را ایستلي دي[۱۹]

خپلې خولې منصور راورساوه دار ته
اوس به څه د چا عشق کوي دعوٰی څوک[۲۰]

((علامه اقبال وایي: د انسان نه هدف هغه انسان دی چې انساني ځانګړنې ولري، د نړۍ ټول انسانان د انسان په نوم یادیږي خو ډېرو کمو سره د انسان د نوم معنوي اړیکه جوړیږي، د مثال په ډول د یو کس نوم دی عابدالله چې معنا یې پرهېزګاره دی، خو دی ټوله ورځ په منکراتو اخته دی، ایا د دې نوم معنا ده سره جوړیږي؟
دی وایي: د انسان صورت نه بلکې سیرت مهم دی یا ظاهر نه بلکې باطن مهم دی. د انسان د هستي اساسي مقام له خودي سره رابطه لري، په دې حقیقت هغه کسان پوهېږي، چې دخودي په معنا او مفهوم پوه وي او خودي یې په ځان کې پیدا کړې وي، وایي:

*هرچه می بینی ز اسرار خودی است*
*پیکر هستی ز آثار خودی است*
*آشکارا عالم پندار کرد*
*خویشتن را چون خودی بیدار کرد*
*غیر او پیدا ست از اثبات او*
*صد جهان پوشیده اندر ذات او))*[۲۱]

## ۴.۶. هنري تفکر

د لویو خلکو شخصیت د هغوی له فن، هنر، علمي او ټولنیزو تجربو نه څرګندېږي. دوی د یوې انساني ټولنې د پرمختګ، سولې او ثبات لپاره علمي او هنري چلند کوي. د ټولنې د وګړیو ترمنځ اړیکه په علمي او هنري تجربو

ټینګوي. له دوی سره د انساني ټولنې د پرمختګ، امن او ثبات لپاره معیار پوهه او هنر وي. دوی غواړي چې د خپلو هنري او علمي تجربو له لارې ټولنې یو له بله سره په انساني تفکر وتړي، دغه تفکر په ټوله کې د امن او پرمختګ تفکر دی.

زه یمه اوچته، اسمانونه *کلوم
زه د غره وریځ یمه ګلونه وروم
کله په صحرا، کله باغونه خوښوم
ګرځمه هر خوا ته، بحر وبر آبادوم

زړه هم سخوبي کې چې مې غواړي چې اوده شم
شي د غرشینکی مې، بچونکی پکې خوره شم

قدرت را ته ښبلي، ملغلري دوړول دي
اوښې ته د ناوې، د رحمت حدي ویل دي
زړه نه د دهقان مې، د خفګان لري کول دي
مجلس کې د ځوانانو، د باغچو رونق کول دي[۲۲]

د اقبال شخصیت د یو لوی انسان په توګه د علمي او هنري تجربو بیان دی، دده دغه ایجادي تجربې د انساني تفکر د پراختیا، ذهني ودې، ذوق خړولولو او په لویه کې د یوې انساني ټولنې د پرمختګ، باعزته او تلپاتې سولې د ټینګښت لپاره دي.

هنر د زړونو دنیا جوړوي، زړونو سره نږدې کوي، د زړونو نږدېوالی ذهني جغرافیه پراخوي، انسان خپل ذوق په شرنګ، رنګ او ترنګ خړوبوي، دې ته نه ګوري چې پیاله او رباب د چا په لاس کې دي. د پیالې له رنګ او د رباب له ترنګه خوند اخلي، دغه خوند په لویه کې انساني تفکر او د انسانیت زړې کړي.

اقبال هم د خپل هنر له لارې د زړونو د پیوندولو او نږدې کولو هڅه کړې، دده رنګین بیان په زړونو خوږ لګي:

نه مې ژبه د غزل ده، نه خبر یمه له ژبې

عربي که عجمي وي، خو یو خوږ دي وي ګفتار

+++

درویش مست د خدای په مینه، نه شرقي وي نه غربي وي
ځای ځیکی مې نه ډیلی دی، اصفهان نه سمرقند

+++

د مومن د جهان هیڅ نه شته بریدونه
هر مقام مومن ته خپل ځایګی ښکاري[۲۳]

دی غواړي چې د سېمبولونو په ژبه ځوان نسل ته فکري روزنه ورکړي او هغوی د ټولنې پرمختګ ته وهڅوي.

شاعر د طبیعت خواږه ددې لپاره وړاندې کوي چې هم پرې خپل ذوق خړوب کړي او هم خپل لوستونکي او اورېدونکي ته د طبیعت په حسي توکیو کې د ژوند خواږه په انځوریزه بڼه وړاندې کړي. د ژوند دغه خواږه انسان ذهن او فکر روزي. له خپلو ارزښتونو سره یې بلدوي، دغه ارزښتونه په ټولنه کې دده شخصیت او فکر خړوبوي او روزي یې. اقبال د یوه شعوري انسان په توګه خپلو نسلونو ته د خپل چاپېریال توکي د ژوند او پرمختګ لپاره انځور کړي دي. دی غواړي چې ددغو ارزښتونو په ژبه او انځور کې د ټولنې فکري اډانه وړاندې کړي او خپل خلک د تمدن او پرمختګ پر خوند وپوهوي.

د غره وربځ کې د ژوند فلسفه په شاعرانه ژبه بیانوي، د غره په وربځ کې دی د خپلواک ژوند خواږه، سوکالي او سمسورتیا رازویني.

زلفې شمه ګورې، د هستۍ په مخ خورېږم
رمنځی د تېز باد باندې سمېږم هوارېږم

مخ رڼا او زلفې د تیارو علامتونه یا سېمبولونه دي، باد له رمنځ سره تشبیه شوی دی. باد او رمنځ له مخه زلفې لرې کوي او مخ را ښکاره کوي. دلته د رڼا لټون په تیارو کې دی. تیارې د ژوند پر مخ پرتې ستونزې دي، ددغو ستونزو تر شا رڼایي ده. دی ټولنې ته په شاعرانه ژبه پر ستونزو د لاسبري بېلګه

په زلفو، مخ، ږمنځ او باد تر منځ تناسباتو کې ورښيي.

وربځ اوږده مزل وهلی، له بهره پورته شوې ده، اسمان غېږ ور ته پرانستې، د فصل ژوند په همدې وربځو کې دی، د فصل سترګې تل اسمان ته وي، په وربځو کې يې سترګې ښخې وي. د وربځو، غره، لمر، فصل او ځمکې اړيکه د ژوند د سوکالۍ او سمسورتيا ننبه ده.

اقبال هڅه کوي چې د خپلې ذهني جغرافيې پر ارته ځمکه د علامتونو او سېمبولونو زړي وکري، هغه وروزي او داسې يې وپالي چې خپلو خلکو ته په هغه کې پر خپلو پښو ولاړې، متدينې، سوکالې، خپلواکې او پرمختللې ټولنې انځور وړاندې کړي. دی د مچ او غنې په علامت کې د رښتينولۍ، باور او هدف ته د رسېدو لاره ښيي.

پښتننو شاعرانو هم دغه ډول علامتونه د خپلې ټولنې او ارزښتونو د پايښت لپاره کارولي دي، زموږ د زمانې فلسفي انځورګر شاعر غني خان هم د همداسې علامتونو يا سېمبولونو په ژبه ټولنه مکارو او مفسدو ژغوري، د سوکالۍ، حرکت، د خپل ذهنيت او پر خپلو پښو ودرېدا ورښيي.

د مچ او غنې له مکالمې او اړيکې دا زده کېږي چې په پسته ژبه شخې غاړې نرمېږي، پسته ژبه په غرونو کې لکه چينې لارې باسي. اقبال خپل نسل ته يوه داسې ژبه په خوله کې ورکوي چې پخپل هنر ځان هدف ته رسول دي. دا درس هم ورکوي چې له مکار دښمنه څنګه ځان وساتي.

يو مچ او جولاګی

ماخوذ

(د ماشومانو دپاره)

يو مچ ته يوه ورځې، جولاګي اوويل دا
چې تګ راتګ دې تل وي، په دې لاره باندې
ستا
لېکن چيرې ويښ نه شو، د جونګړې مې قسمت
په هېره چېرې هم دلته، کېښښود قدم تا

پردو سره که پرېږدې، نو خبره دا څه نه ده
خو خپلو نه، په ډډه ډډه تلل دي ناروا
که کور ته زما راشې نو عزت به زما وشي
او دغه مخامخ پوړی، راتلو لره دی ستا
خبره چې مچ واورېده، ویل یې جولاګې ته
چې ګوره څوك کم عقل، ورکوه ورته دوکا
زه مچ یم ستا په دغه، جال کې چیري نه ګیرېږم

ختلي په پوړو چې دي، کوز شوي نه دي بیا
ویل یې جولاګې چې، واه د ټګ ګومان دې وشه
ناپوهه به بل نه وي، په دنیا کې لکه ستا
زړګي مې دغه غوښتو، چې خاطر وکړم خو ستا
خبره د فایدې خو، په کې هېڅ نه وه زما
راغلی یې له کومه، خدای خبر ته به یې ستړی
دمه که ما کره وکره وکړې، نو څه ده بده دا
دې کور کې ډېرڅیزونه دي، و تا ته د ښوولو
باهر نه هسي ښکاري، کوټکی غوندي زما
نری نری پردې، په دروازو دي غوړېدلي
ښایسته دي دېوالونه، په سرو شنو آئینو صفا
تر پایه[24]

## ۴.۷. وطنپرستي

هر انسان هڅه کوي چې د پایښت، پرمختګ او ثبات لپاره لومړنۍ مبارزه له خپل چاپیریال او ټاټوبي پیل کړي، ځکه که دده چاپیریال نارامه وي، دده فکر او ذهن نارامه کېږي. د فکر او ذهن نارامي د سولې، ثبات او پرمختګ پر وړاندې لوی خنډ دی.

اقبال غواړي چې لومړي پخپل چاپیریال کې د سولې، ثبات او پرمختګ

خنډونه لري کړي او له فرصتونو ګټه واخلي.

دی غواړي چې ځوان نسل او ماشومان د وطنپرستۍ په روحیه وروزي، وطنپرستي د یوه ملک د فکري او ذهني کچې د لوړولو، آزادۍ، سولې او ثبات او پرمختګ یو لوی اساس دی.

وطنپرستي له زړه کېږي، د زړه خبره او د زړه مینه له صداقت او رښتینولۍ وي، د زړه خبره پاکه او سپېڅلې وي، اقبال د زړه په سترګو خپل ارمان او الهي ته سجده ږدي، خپل نسل دې ته را بولي چې له خپلو ارزښتونو سره له زړه مینه وکړئ، د زړه مینه انسان او د زړه په سترګو خپلو ارزښتونو ته کتل، انسان پرمختګ او خپل هدف ته رسوي، اقبال حتمي دا ټپه اورېدې ده چې:

چې د زړګي مینه یې نه وي
میېن دې نشي د ملا په تاویزونو
یا حمید بابا وایي
په هغه لمانځه لمانځه نشي کانځه شي
چې یې زړه وي په رباب سره په محراب سم
اقبال ته بیا له ځمکې دا آواز راځي :

چې مې سر په سجده کېښوو، دا آواز راغی له مځکې
ستا زړه بت سره اشنا دی، څه به ومومې نماز کې[25]

له خدای پاکه دده ګیله ده چې یوازې ملا جنت ته بیایې بیا ور ته دا منطق وایي:

ی قامونه، ملتونه، سرکوي پر بدو لارو
او جنت کې نه جمات شته، نه کنشت، نه کلیسا[26]

د خپل وطن معشوقې له یورپه غوره بولي، پر دې ذوق او فکر ځوان نسل ته له خپلو خلکو او ارزښتونو سره د مینې درس وکوي:

اې اقباله! په یورپ کې ما عبث ولټوله

چې خبره کومه شته، د هندوستان په معشوقو کې[۲۷]

د اقبال تفکر دا دی چې خپل ملت په تېره نوی نسل ته باید د وطندوستۍ روحیه تدریس شي، په وطندوستۍ او وطنپالنه کې د هر انسان عزت نغښتی دی. وطنپالنه او وطندوستي د یوه ملت طبیعي حق او اساس دی. لکه څرنګه چې د فکر لوښی مفکوره ده، مفکرین دا هڅه او هاند کوی پخپل تفکر په یوه مفکوره کې را ټول او بیان کړي، مفکوره د فکر لوښی او پایله ده. همداسې جغرافیه د هر وګړي د فکر، خیال، صور او احساس د روزنې ځای ځایګی دی، نو د انسان ذهني جغرافیه د فکر، خیال، صور او احساس لپاره لوښی دی، انسان په همدې لوښي کې د تفکر، تصور، تخیل او احساس آس ځغلوي. وطن د هر انسان د روزنې او پالنې غېږه ده. اقبال ته د هند ځمکه چې دده د زوکړې او روزنې لوښی دی، تر هر څه ګران دی، دی په همدې لوښي کې پخپل رنګ او ژبه خپل تفکر او ذهنیت وړاندې کوي:

ژۍ په ژۍ دي له شراب، د حقیقت نه جام د هند
فلسفیان ټول د مغرب دي، تابعدار او رام د هند
دا د هند د اوسېدونکو، د رسا فکر اثر دی
له اسمانه هم اوچت دی، په دې وخت کې بام د هند
دلته تېر دي له زرګونو، فرښتو په شان چې خوی وو
د هغو له برکته، مشهور دی نام د هند
هندوستان کوي فخرونه، تل د رام په وجود باندې
د نظر خاوندان وایي، ورته ټول امام د هند
او هم دا خو معجزه د، هدایت د دې ډیوې ده
د سحر نه چې زیات روڼ دی، په دنیا ماښام د هند
وو په توره مېړنی او، په مېړانه بې مثاله
هم د مینې محبت، پاکیزګۍ کې باکماله[۲۸]

## ۴.۸. خپله تیوري او خپل مشاهیر

هره ټولنه غواړي چې د خپلو غوښتنو، هیلو او اړتیاو لپاره تلپاتې سولې، پرمختګ او ثبات لپاره د خپلو ارزښتونو په رڼا کې یوه تیوري او تګلاره جوړه کړي.

اقبال هم د یوه سترګو مفکر په توګه د خپلې ټولنې د پرمختګ، تلپاتې سولې او ثبات لپاره د خپلو ارزښتونو په رڼا پر ختیځه یا شرقي تیوري او فلسفه ټینګار کوي، د امام غزالي، غالب، مولینا بلخي، خوشحال خان خټک او علامه سید جمال الدین افغان فلسفي فکرونه تر یوناني فلسفې خپلو دردونو ته ښه درملنه بولي.

اقبال د خپل فکر شاعرانه لیتکی له غالبه بلوي، اقبال ځوان نسل د خپلو مشاهیرو لوستو ته رابولي او دخپل تهذیب ننداري پرې کوي، مرزا غالب چې د فارسي او اردو نوی شاعر او د هندي سبک استاد دی، اقبال ترې اغېزمن دی.

معلومه کړله ستا له برکته دا انسان

مارغه د تخیل شي الوتی تر کوم مکان[۲۹]

مرزا غالب

معلومهکړله له ستا له برکته دا انسان
مارغه د تخیل شي، الوتی تر کوم مکان
محفل د شاعرۍ وو، تن او ته یې روح روان
ښاپست وې د محفل، او هم محفل نه وې پنهان
ستا سترګې هم د هغه، ښاپست غواړي دیدنونه
چې سوز د زندګۍ دي، هر څه شی کې پټ دننه
مجلس دی د هستۍ ستا په رباب سرمایه دار
چې څنګه په نغمو، د توی سکوت دی د کوهسار
ستا د تخیل نه، د قدرت هم دی بهار
ستا د فکر کر نه، را ټوکېږي عالم زار

ژوند دي پوشیده دی، په شوخۍ کې د تحریر
ګوانښ د ګویایي کې یې دي شونډې د تصویر

خبرې کړي فخرونه، ستا د شونډو په اعجاز
حیرانه ثریا ده، ستا په دې اوچت پرواز
د خوږ نه خوږ مضمون شه، صدقه ستا په انداز
خاندي د ډیلي غوټۍ په ګلو د شېراز
آه ویجاړ ډیلي کې تا جوړ کړی خپل مقام دی
باغ کې د "ویمر" ستا، همنوا ناست په آرام دی

ستا د شاعرۍ سره، سیالي نه شي کېدی
کامل فکر چي 'و، د تخیل نه شي ملګرې
آه په هغه هند، چي چیري وو یو وطن ښکلې
آه چي ننداري دي، نکته بینو ته ښودلې
زلفې د اُردو لا، منت باري دي شانې ته
شمع سودايي ده، دلسوزۍ د پروانې ته
اې ډیلي! زانګو وې، ته د علم او هنر
سر تر نوکه ژاړي، پټ پټ ستا دا بام و در
ستا ذره ذره کې دی اوده سپوږمۍ او لمر
هسي په دې خاورو کې لکهونه دي ګوهر
داسي در کې هم چرته، هستي شته دې نامداره!
ښخه چرته پټه ملغلره شته آبداره[30]

دی خپل خلک د خپلو مشرانو له تجربو څخه ګټې اخستو ته هم رابولي او په دې اند دی چې د خپلو مشرانو تجربې د خپل لوی کلي او چاپېریال د ارزښتونو ساتل دي.

هېڅ نسبت د خپله پلاره، سره ستا نشي کېدلای
ته وینا هغه عمل وؤ، ته ثابت آسیارا
چي د خپلو مشرانو، میراث موږ تالا ترغه کړو
نو په مځکه باندي وویشتو، اسمان له ثریا

خو د علم ملغلرې، کتابونه د نیکونو
چې یې وګورو یورپ کې زړه مو شي اره آرا
اې غني ته "بدبختۍ ته، د کنعان د پیر وګوره!
چې د سترګو نور یې کړئ، د زلیخې سترګې رڼا[۳۱]

اقبال د مسلمان ملت د یوه استازي شاعر په توګه غواړي چې په سیمه کې د سولې او پرمختګ لپاره د خپلو مشاهیرو د ډیوو رڼا ته خلک را وبولي، اقبال ختیځه ټولنه د خپلو اسلافو د وینا په ثبوت د امن او سولې علمبرداره ښیي. د هغوی تجربې را مخکې کوي او دا دنیا ته ښیي چې د مولینا، خوشحال او علامه سید جمال الدین د خاپوړو ځمکه د پوهې او هنر ځمکه ده. د پوهې او هنر ځمکه د انسانیت، سولې او ثبات تخم را ټوکوي، نو پر هغه ځمکه چې د مولینا، خوشحال او علامه سید جمالدین افغان پلونه ایښود شوي وي، هغه دنیا ته په پوهنه او هنر د سولې او انسانیت درس ورکوي. ځکه خو دی له خپلو دغو مشرانو لاسنیوی کوي:

رفتم و دیدم دو مرد اندر نماز
مقتدی تاتار و افغانی امام
پیر رومی هر زمان اندر حضور
طلعتش برتافت از ذوق و سرور
گفت مشرق ز این دو کس بهتر نزاد
ناخن شان عقده های ما گشاد
سید السادات مولانا جمال
زنده از گفتار او سنگ و سفال
با چنین مردان دو رکعت طاعت است
ور نه آن کاری که مزدش جنت است
قرات آن پیرمرد سخت کوش

سوره و النجم آن دشت خموش
قراتی که از وی خلیل آید به وجد
روح پاک جبرئیل آید به وجد[۳۲]

په لویه کچه :

«... د ده مفکورې او شاعرۍ د وسطي ایشیا د ملتونو په مغزو او تفکر کې حرکت او نهضت پیدا کړی دی. د ده تعلیم روان دی...»[۳۳]

په یوې ټولنه کې د سولې او پرمختګ لپاره اړینه ده چې د ټولنې وګړي د خپلو مشاهیرو تجربې، ژمنتیا، وطندوستي، حق ویل، حق اخستی او حق لیکل خپلو نسلونو تدریس کړي او هغوی د یوه ملي او اسلامي فکر په تغر را ټول کړي. اقبال د یوه ژمن وطندوست په توګه خپلو نسلونو ته د آبادۍ، سوکالۍ او پرمختګ لپاره د پخوانیو تجربې د خپل فکر په رڼا کې په ښکلي منظومه او منثوره ژبه بیانوي.

چون چراغ لاله سوزم در خیابان شما
ای جوانان عجم جان من و جان شما
غوطه ها زد در ضمیر زندگی اندیشه ام
تا بدست اورده ام افکار پنهان شما
فکر رنگینم کند نذر تهی دستان شرق
پاره لعلی که دارم از بدخشان شما
میرسد مردی که زنجیر غلامان بشکند
دیده ام از روزن دیوار زندان شما
حلقه گرد من زنید ای پیکران اب و گل
اتشی در سینه دارم از نیاکان شما[۳۴]

+++

دریای تو دریاست که آسوده چو صحراست؟
دریای تو دریاست که افزون نشد و کاست؟
بیگانه آشوب و نهنگ است چه دریاست؟
از سینه چاکش صفت موج روان خیز
از خواب گران خواب گران خواب گران خیز [۳۵]

## ۴.۹. د اضدادو فلسفه

اقبال لکه د خوشحال په څېر جنګ او سوله دواړه د ژوند د یوې سکې دوه مخونه بولي، د هغه په یوه لاس کې توره او په بل کې قلم و، په توره یې ګټه کوله او په قلم یې د تورې ارزښت ساته. په توره یې خپل قام ته فزیکي آزادي غوښته، په قلم یې ور ته فکري او ذهني آزادي غوښته، سوله یې هم د جنګ په مخ کې کتله، اقبال د اضدادو پر فلسفه باور درلود سپین یې په تور او تور یې په سپین کې لټاوه، همداسې سوله یې په جنګ کې لټوله، ثبات او پرمختګ یې د قربانیو پایله ګڼله.

هنگامه افرنگی، یک جسته شرار من
چنگیزی و تیموری مشتی ز غبار من
خون جگر مردان، سامان بهار من
انسان و جهان او، از نقش و نگار من [۳۶]

یا

ورنه این را مرده آن را زنده است
روح با حق زنده و پاینده است
زیستن با حق حیات مطلق است
آن که حی لا یموت آمد حق است [۳۷]

## ۴.۱۰. بشري ټولنه او د اقبال ذهني جغرافیه

د لویو خلکو ذهني او فکري کچه ډېره لوړه وي، تر پلونو لاندې ځمکه خپل منزل ته محدودوي نه، غواړي چې د یوې لویې بشري او انساني ټولنې، د ثبات او پرمختګ لپاره کار وکړي، نو د ذهن جغرافیه پراخه ساتي. اقبال هم ځان د قام او محدودې جغرافیې په ځلورو دېوالونو کې ځان نه را ایساروي، دی لومړی د یوې مسلمانې ټولنې د رامنځته کېدو لپاره د ټولو اسلامي هېوادونو همغږي غواړي، یا په لویه کې یوه لویه اسلامي ټولنه چې بنسټ یې الهي حکومه ږدي، غواړي:

نہ افغانیم و نی ترک و نی تتاریم
چمنزاریم و از یک شاخساریم
تمیز رنگ و بو بر ما حرام است
کہ ما پروردہ‌ی یک نوبہار یم[۳۸]

+++

خدا آن ملتی را سروری داد
کہ تقدیرش بہ دست خویش بنوشت
بہ آن ملت سروکاری ندارم
کہ دہقانش برای دیگری کشت[۳۹]

خپل ځوان نسل د تمدن دنیا ته رابولي. د ټولنې فکري بهیر په جلال کې د جمال ننداري ته کېنوي او په حسي انځورونو کې ټولنې ته فکري لوری ورښیي، د پند خبرې ور ته کوي:

دا لټون د شمعې دی جهان ته چې رڼا ښیي
دا د علم آس ته، په قدم قدم ادا ښیي[۴۰]

«علامه اقبال لاهوري هغه مفکر وو چې فکر او افکار یې له جغرافیایي حدودو

تېر شول او په اوسني عصر کې د يوه ستر اسلامي مفکر په توګه راڅرګند شو، هغه تل د اسلامي نړۍ له اوسني حالت څخه خپه وو او د پخوانۍ هويت د بحالولو لپاره يې د حل لاره لټوله. هغه يو مسلمان و او هيله يې درلوده چې خلک اسلام ته راشي او مسلمانان يو بل ته د ورورګلوۍ او ورورولۍ لاس ور اوږد کړي تر څو په نړۍ کې سوله او امن وي او نفرتونه او جنګونه له منځه ولاړ شي... علامه ټينګار وکړ چې دا ډول بدلون تر هغه وخته پورې نه شي راتلای چې مسلمانان په خپل ځان کې بدلون راولي او دا کار له قرآن څخه د راوګرځيدو او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سنتو په سيوري کې د هغه د احکامو له تعقيبولو پرته ممکن نه دی. او خپل فکر يې يوازې په اردو ژبه او د هند په خاوره کې محدود نه کړ. د دې لپاره چې خپل پيغام زياتو مسلمانانو ته ورسيږي، دري ژبه يې د خپل شعر د اصلي ژبې په توګه غوره کړه او خپل ډېر شعرونه يې په همدې ژبه ليکلي او له فارسي ويونکو سره يې ډېره مينه درلوده. په زاړه خراسان کې د فارسي ژبې اصل له اقبال سره ډېر مشهور و. د پخواني خراسان ډېره برخه نن په افغانستان کې موقعيت لري. اقبال هم د افغانستان له خاورې او افغان ولس سره ژوره مينه او ليوالتيا درلوده او په خپلو څو شعرونو کې يې ورته اشاره کړې ده:» [۴۱]

او فساد و گشاد اسيا را مربوط و منوط به ملت افغان مى داند و سعادت انسان را در وحدت، همدلى و اموزش علم وفن مى بيند و مى فرمايد:

آسیا یک پیکر آب و گل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از فساد او فساد آسیا
در گشاد او گشاد آسیا
تا دل آزاد است آزاد است تن
ورنہ کاہی در رہ باد است تن
ہمچو تن پابند آئین است دل
مردہ از کین زندہ از دین است دل

قوت دین از مقام وحدت است
وحدت ار مشهود گردد ملت است
شرق را از خود برد تقلید غرب
باید این اقوام را تنقید غرب
قوت مغرب نہ از چنگ و رباب
نی ز رقص دختران بی حجاب
نی ز سحر ساحران لالہ روست
نی ز عریان ساق و نی از قطع موست
محکمی او را نہ از لادینی است
نی فروغش از خط لاتینی است
قوت افرنگ از علم و فن است
از همین آتش چراغش روشن است[۴۲]

لوی خلک تل د لویو شخصیتونو، قومونو او ملتونو په پېژندنې پسې گرځي، د هغوي مطالعه کوي، اقبال پر افغان ملت او پښتانه قام مېین شخصیت دی، دده دغه مینه دده په نظمونو کې څرگنده شوې ده، دی له خوشحال، احمدشاه بابا او همداسې پسې شاه امان الله غازي او نادرشاه نه اغېزمن دی. د هغوی شخصیتونه ستايي، د ځینو له ارواوو سره خبرې کوي، له هغوی نه زده کړه کوي او له هغوی سره د خوب لیده پخپل تفکر بیانوي،

«... اقبال له پښتنو سره مینه درلوده، د خپل غوره کردار لوړو اخلاقو، عمل، سخت جانۍ او سخت کوشۍ، له کبله پښتانه په ده ډېر گران وو، پخپل کلام کې اقبال د پښتنو ددغه صفتونو ځای پر ځای یادونه کړې ده، ځینو ځایونو کې خو يې د پښتنو یادونه ښېخي په ډاگه کړې ده، البته په ځینو ځایونو کې بیا په ځانگړې توگه دپښتنو خوی و خاصیت او ملي مشاهیر ته په درنه سترگه کتلي دي، نه یوازې دا بلکې د اقبال په فکر باندې افغانیت ډېره درنه او توده اغېزه او

اثر ښندلی دی، چې له کبله یې د ځینو نړیوالو پر اقبال باندې بېخي د افغان ګمان کېده، همدغه سبب و چې پښتنو د خپل دغه غمخور د لوی شخصیت دده په ژوند کې لا وپېژانده، د اقبال په ژوند کې لا د اقبال د منظوم کلام پښتو منظومې ژباړې پیل شوې. »[۴۳]

نادرشاه افغان

له حضور د حق یې راوړې څو تابانه مرغلرې
هغې ورېځ چې رګ د ګل نه جوړوي تار د نفس
په منځ لاړ کې چې جنت مې ولیدلو شوم بې تابه
زړه مې وغوښت په دې ځای کې ودرېږمېپه هوس
له جنت دا آواز راغی منتظره دې و تاته
د هرات او د کابل هم د غزني سبزه نورس

د نادر د سترګو اوښکې د لاله په داغ شینده ته
په دا شان چې دغه اور یې بیا دوبار مه مړ کوه ته

د خوشحال خان وصیت

د ملت په یو وحدت کې قبایل دی ورك کړي ځان
چې پرې نوم د افغانیانو په دنیا کې دی بلند
زه په هغو تور زنانو شاه زلمو باندې مېین یم
اچوي چې کوم په ستورو د اسمان باندې کمند
له مغل ځنې هېڅکله لاندې نه دی په هېڅ څیز کې
دا د غرونو نازولي چې په غرونو کې کړي ژوند
اې ملګریه! وبه کړمه تا ته زه د زړه خبره
خوشحال خان هغه مدفن کې و خپل ځان لره پسند
چې سیلۍ د غرونو هلته زما لور ته راوړای نه شي
د مغل شهسوارانو دوړې پښو نه د سمند[۴۴]

اقبال په غزني کې د سنايي د کتبې سر ته ودرېږي او ددغه عظیم انسان له

روحاني اروا سره خبرې کوي، دی ددغه لوی انسان له روحاني شخصیته اغېزمن کېږي او هملته یو نظم لیکي:

رومي "ته په جنت کې ویل داسي سنایي"
تر نن دی د ایشیا د زندګۍ هغه انداز
خو داسي روایت دی د منصور نه چي اخیر
یوځوان یې قلندر کړلو ظاهر د خودۍ راز

## ۴.۱۱. عدالت

د تلپاتې سولې او ثبات یوه ستن یا اصل عدالت دی. لوی خلک په ټولنه کې د عدالت د ټینګښت او عادلانه نظام د پایښت لپاره سوله او ثبات یو اصل ګڼي، دغه اصل په ټولنه کې فکري او ذهني کچه لوړوي.

اقبال هم د یوه ژمن انسان په توګه په ټولنه کې دیوه عادلانه نظام ټینګښت سوله او ثبات ګڼي. د حق لپاره غږ پورته کوي. نو: حق ویل، حق سپارل، حق غوښتل، حق اخستل او حق لیکل د سولې، ثبات او ټولنې پرمختګ بولي. دده مفکوره په ټولنه کې د یوه عادلانه نظام د ټینګښت ده.

## ۴.۱۲. ملت جوړونه

یو ملت هغه مهال رامنځته کېږي چې لومړی د ټولنې هر وګړی خپل ځان وپېژني، په ځان پېژندنه کې د ټولنې د نورو وګړیو پېژندنه هم نغښتې ده، ځان پېژندنه د خودۍ بنسټ دی، خودي د ملت جوړونې تفکر رامنځته کوي، نو که موږ غواړو چې د یو ملت په توګه وپېژندل شو، نو ددې پېژندنې یو لوی ماخذ د اقبال مفکوره ده. اقبال باید د ملت جوړونې لپاره ولوستل شي.

هر کله چې یو ملت رامنځته شو، دغه ملت بیا یو ګډ ارمان لري، تر ټولو لومړنی ارمان یې د انساني ټولنې جوړښت دی، د انساني ټولنې جوړښت د پایداره سولې او ثبات غږ دی، سوله او ثبات انساني فکر روزي، د فکر روزنه د ټولنې مادي او معنوي پرمختګ دی. دغه معنوي او مادي پرمختګ انسان له

ورو کړیو لویې دنیا ته بیایي چې هغه نړیواله او انساني ارزښتونو ولاړه دنیا ده، د اقبال خودي ځان همدې لویې دنیا ته رسوي.

«اقبال د هغه ملت شاعر دی چې په لویه کې د انسانیت او ورورلۍ فضا رامنځته کوي. د نړیوالو واقعیتونو د پېژندنې لپاره ورې پولې نړوي او موږ ته لارښوونه کوي... د اقبال د افکارو حیثیت نړیوال دی، له ریاست او ادارۍ محدودیتونو ځان ژغوري، دده ارمان په ټوله کې د انسانانو خپلواکي او انسانیت پر بنسټ د یو ملت رامنځته کوي دي.»[۴۵]

نو: دده تفکر باید په محدود چوکاټ کې بند نشي.

اقبال په ټولنه کې د اسلامي مفکورې پر چرګۍ ډېر وتلي شخصیتونه د تفکر دنیا ته را وبلل، د خپل تهذیب د انځورولو لپاره یې وګومارل، په دغو لویو شخصیتونو کې چې په فکري لحاظ یې له اقباله لاسنیوی کړی، یو هم حمزه شینواری دی. حمزه بابا له اقبال سره د خپلې مینې او فکري یووالي له مخې دده دوه کتابونه ژباړلي دي.

لوی شخصیتونه د سیمې او خلکو هوساینه په ملت جوړونه کې ګوري، دوی د قومونو تر منځ یووالی د ملت جوړونې اساس ګڼي، دغه اساس د ملک او سیمې سوله، ثبات او پرمختګ ګڼي.

د اقبال فکر هم د مسلمان ملت د شاعر په توګه ملت جوړونه د سولې، ثبات او پرمختګ یو بنسټ ګڼي، ځکه خو دی خلک له قبیلویته ملت ته رابولي. ملت جوړونه د هېوادنو تر منځ دوګړیو په پوهه، هنر او فن کېږي. اقبال پوهه او شتمني د ملت نظم او باور ګڼي، د ټولنې وګړي یو پر بل د باور او عقیدې له لارې راټولېږي او د یو منظم ملت په توګه ځان را څرګندوي، د علامه اقبال په وینا دا یو د خپلواکۍ او دا بل له غره واخله. پوهه په سینه او شتمني په غره کې وي. په پوهه د غرونو سینې څیرېږي او شتمني ترې راباسي.

علم و دولت نظم کار ملت است
علم و دولت اعتبار ملت است

آن یکی از سینہ احرار گیر
و آن دگر از سینہ کہسار گیر[۴۶]

انساني ذهن يوه محدوده جغرافيه او د ژبو محدود چاپيريال په يو لوی او پراخه چاپيريال بدلوي، آقبال د يوه اسلامي مفكر په توګه انساني ذهن د خپلو ارزښتونو په رڼا کې له يوه محدود چاپيرياله لوی چاپيريال ته راباسي، دی د ژبو رنګارنګي د انساني ټولنې د جوړېدو رنګونه بولي، دغه رنګونه وسيلې دي چې انسان پرې خپل تفکر بيانوي. اقبال د ختيځ اسلامي فرهنګ هغه لوی فکرونه لوستي چې د د ژبو رنګارنګي يې د ملت جوړونې فکر وړاندې کاوه، په هغوی کې د ازبکي ژبې بنسټګر او لوی شاعر امير علی شېر نوايي او د پښتو ژبې لوی شاعر خوشحال خان خټک يادولی شوو. دغو دواړو د خپل پراخه ذهن او ذهيت په رڼا کې په دوو ژبو شاعري کړې ده. د نورو ژبو له ښکلا يې هم ګټه اخستې ده. لکه عربي، ترکي او... اقبال هم دهمدغو اسلافو پر پل پل ايښی دی، د يو لوی اسلامي مفکر په توګه يې د خپل تفکر وړانګې د بېلابېلو ژبو او جغرافيې په رنګارنګۍ کې کرلي دي، مورنۍ ژبه يې اردو وه، خو فارسي يې هم خپله ژبه وګڼله، دا ځکه چې فارسي په سيمه کې د پوهې او هنر ژبه وه، نو خپل تفکر يې په دې ژبه کې هم د يوه لوړ شاعر او انساني ذهنيت خاوند په توګه وړاندې کړ. پايله دا راوځي چې اقبال د خپلو اسلافو په څېر ذهني محدويت نه مني، د ژبو له رنګارنګۍ بوستان جوړوي، ژبې د ګلونو د رنګونو په څېر د ورېمو او ښايست رسولو، ذهني سکون لپاره د يو لوی هدف رسولو وسيلې بولي، د ګلونو د رنګونو او رنګارنګۍ دغه بوستان يو لوی ملت بولي. جغرافيه د ملت لپاره لکه د بوستان په څېر يوه اډانه ګڼي، د ژبو او قومونو رنګارنګي په دې اډانه کې روح او کيفيت بولي. دغه کيفيت لکه د ګلونو دسته يا د رنګونو بوستان يو ملت ګڼي چې هر ګل او هر رنګ پکې د طبيعت او لوی ذات د تخيلق ځواک او په ښايست ميښېدل ښيي. کله چې ژبې او قومونه لکه د ګلونو رنګه را ټول شي، نو له هغه نه ملت جوړ شي، ملت بيا له دغو رنګونو د جوهر او کيفيت

په ژبه د ملیت ښایست او تفکر وړاندې کوي.

اقبال پر اسلام د ځوان کول را ماتېدل غواړي:

قومیت که د اسلام، چیرې پابند وي د مقام
نو نه هند د ده وطن دی، نه فارس دی او نه شام
مینه ته یې وطن ته یې هم یې ته ځای د پناه یې
پلوشو د تاثر نه، د کشش نقطه هر ګاه یې
چې تر څو ته یې دنیا کې نو باقي به مسلم هم وي
چې سحر شته نو چمن کې به ګوهر د شبنم هم وي[۴۷]

اقبال د یوه متقي او پرهېزګار انسان په توکه د ژوند وروستی انجام جدایي بولي، کومه جدایي هغه چې له دې دنیا نه رحلت دی، جدایي دی له خپل نفسه لرې کېده ګڼي

دا یو خوب دی چې وي تل دي اشنایي
د جهان قانون دی بس یو جدایي[۴۸]

اقبال هره پدیده پخپلو ارزښتونو کې ښایسته بولي، لوښی او پکې پراته شیان یو دبل تکمیل ګڼي، که د یوه لوښي یوه څنډه هم کنډو وي، نو هغه لوښی نابشپړ بولي، د انسان ژوند پر ځمکه دی، ځمکه او وطن د یو ملت لوښی او پېژاند دی. د اقبال په وینا که د ګل یوه پاڼه هم لوېدلې وي، نو ګل نه دی، پر ګل چې بیا د بلبل ناره نه وي، هغه بلبل نه دی. دلته بلبل او ګل یو دبل بشپړونکی دی. دا نسان جوهر انسانیت دی، انسانیت بې له فریاد او غږ ایستلو لکه مړ کالبوت دی. دی په دې وینا خپلو خلکو ته د وطن او په وطن کې د یوه حرکت او خدمت درس د طبیعت په څېزونو کې د بېلګې په وړاندې کولو سره ښیي. دده وینا یوه حسي وینا ده:

که یوه پاڼه وي کمه، په کوم ګل کې نو ګل نه دی
که خزان نه وي لیدلی، کوم بلبل نو بلبل نه دی
ده د زړه قیصه رنګینه، په خونونو د ارمان

د انسان انسانیت نه، کاملېږي بې فغان[۴۹]

اقبال په لویه کې د ملت پالنې او وطن دوستۍ تفکر په شاعرانه ژبه وړاندې کوي، خپل نسل ته د تخیل په پیمانه کې د تفکر خواږه ورکوي، دی دلته د شعر ژبه او لوښی د خپل تفکر لپاره وسیله کوي او ټولنه وطندوستۍ او ملت جوړونې ته رابولي، دده مسلمان ذهنیت په خپل لوښي کې د ملت جوړونې او وطندوستۍ تفکر وړاندې کوي. دی په عجمي خم د حجاز شراب څښي او هندي سندره په حجازي سر کې وړاندې کوي. په دې بیت کې دده وطندوستي، وطنپالنه او اسلامي تفکر دی په یوه لویه کړۍ کې شاملوي چې هغه د اسلامي امت کړۍ ده، دی په دغې کړۍ کې عجمي خم په لاس او هندي سندره په خوله ګرځي. هندي سندره دده د ژوند ژبه ده، دغه سندره حجازي سر چې هغه د دده د عقیدې او باور دنیا ده په شور راوستې ده. دی قومیت او اسلامیت دواړه د ژوند د بقا او پایښت لوی بنسټونه بولي.

څه که خم مي عجمي دی، خو شراب مي حجازي دي

که سندره مي هندي ده، خو سرونه حجازي دي[۵۰]

زموږ د پښتو غزل بابا امیر حمزه شینواری هم په دې نظر او فکر دی چې:

که باده مې ده اسلام پښتو مې ظرف دی
مزه کاندي پخپل ظرف کې مشروبات
ما حمزه ته یثربي باده خاونده
په ښاغلې پیمانه کې د افغان را

حمزه د ملت جوړونې تفکر په اسلامیت کې ګوري، باده یې اسلام او لوښی یې پښتو ده. د اقبال بیا لوښی عجمي او باده حجازي ده، له حجازي نه بیا موخه همدا اسلام دی. د حمزه صاحب په دویم بیت کې باده یثربي ده لکه د اقبال چې حجازي ده، پیمانه یې د افغان ده، د اقبال بیا پیمانه د عجم ده. ددې دواړو تفکر په لویه کې له زېښناکه او ښکېلاکه د مسلمان امت ژغورول او پخپله ژبه او قوم درېدل وو. دوی دواړو په اسلامي جنډه کې د خپل قام او ملت

رنګونه لیدل. پخپله خاوره کې یې پخپله ژبه اسلام غوښت. ددوی رنګونه که د افغان او هندي وو، خو شور یې اسلامي وو.

حمزه بابا له اقبال سره په همدې تفکر ذهني یووالی لاره، دغه یووالي او اغېز پرې دده اثار هم وژباړل.

د لویو خلکو فکري یووالي ټولنه متمدنه او متدینه کوي، د دوی ملي یووالی د تمدن بنسټ ږدي. ټولنه هغه مهال وده او پرمختګ مومي او سوکاله کېدای شي چې هغې کې فکري او ملي یووالی وي. د فکري او ملي یووالي بنسټ وطندوستي، وطنپالنه او په لویه کې اسلامي ارزښتونو ته ژمنتیا ږدي. دغه ژمنتیا ټولنه متمدنه کوي، متمدنه ټولنه د فکري ازادۍ پایله ده، فکري آزادي ذهني سوکالي او آرامي ده، ذهني سوکالي، آزادي او آرامي د ژوند ښکلا او پایښت دی.

متدینه ټولنه د فکري او ذهني آزادۍ او یووالي له لارې د تمدن پوړ ته رسي. ځکه خو زموږ د زمانې دغو دوو لویو شخصیتونو د خپل ژوند پایښت، تمدن او پرمختګ د خپلې خاورې په ازادۍ، فکري او ذهني یووالي او ملت پالنه کې لیده.

## ۴.۱۳. ملي یووالی د تمدن ضامن

د ملت یووالی، د ژوند حقیقت، انسانیت او مینه هغه بنسټونه دي چې اقبال پرې تاکید کاوه، ده په دغو بنسټونو کې د ملت فکري او ذهني پرمختګ او تمدن لیده.

اقبال د نورو فلاسفه وو په څېر د ټولنې تمدن او فکري پرمختګ په یووالي کې لیده، دده هڅه دا وه چې اسلامي امت په دیني ارزښتونو راټول او یو لوی ملت ترې جوړ کړي. دده ذهني جغرافیه په اسلامي بنسټونو ولاړه وه، ځوان نسل یې له غربي تهذیبه د خپلو ارزښتونو له مخې خپل تهذیب ته را باله.

اقبال یووالی ته د رسېدو لپاره خپل ماشوم ته د اسلامي ارزښتونو د پاللو سپارښتنه کوي.

همدردي

(ماخوذ له ولیم کوپرنه، د ماشومانو دپاره)

پر یو ښاخ د ونې ناسته وه بلبله
څه خفه او غلې غلې ښکارېدله
وېل چي شپه مي پر سر راغله 'څه به کېږي
ځای په ځای مي په خوراك ورځ تېره کړله
اوس به څنگه ورسم تر خپلې جالې
پر هر شي باندي تياره راخوره شوله
هلته یو اوراورکی و چرته غلی
د بلبلې دا زار ی یې واورېدله
ویلې گر که زه یو نه څه غوندي شی یم
ولې ستا خدمت ته ملا مي وتړله
که تیاره د شپې خوره شوه نو څه غم دی
زه به ستا مخ کې ډیوه کړم خپله بله
خدای راکړې په قدرت ما ته رڼا ده
تا ته لاره به ښیم پرې زه په خپله
هم هغه خلک دي ښه په دې جهان کې
چي د نورو شي په کار په درد خفگان کې[۵۱]

ده د ملت پر مختگ فکري رغبنت په یووالي کې لیده.
چیرته بیا یې راپیدا کړه، چي هم دغه لوی دولت دی
هغه ژوند څه وي چي زړه وي، له سینې نه نااشنا
ستا عزت ؤو تر هغې چي، دې ملت کې اتفاق و
اتفاق چي درنه لاړه، نو دنیا کې شوې رسوا
فرد ملت باندي قایم وي، او یواځې هېڅ هم نه وي
موج په سیند کې وي بهر گوره! بیدیا کې هېڅ هم نه وي
په پردو کې دې د زړه لا، محبت بند پټ ساته ته

یعنې خپل شراب دې مه کړه، د مینا غوندې رسوا [۵۲]

اقبال په لویه کچه قامونه او ملیتونه د دین پر بنسټ یو ملت ته رابولي چې هغه ملت مسلمان دی. دی غواړي چې د کفر په مقابل کې اسلامی امت یووالي ته راوبولي او ددغه یووالي له لارې دوی د خپلو شتو او هستیو په برکته ځان د نورو له تمې خلاص کړي، خودي پیدا کړي.

د فطرت مقصود هم دا دی، هم دا ده مسلماني
ورورولي د اول جهان، د محبت فراواني
دا د ویې او د رنګ , بتان کړه مات ملت کې ګډ شه
چي بیا نه وي توراني، نه ایراني نه افغاني

+++

د بیل بیل کس ایمان پنګه، د تعمیر د خپل ملت ده
مصاله دا جوړونکې د تقدیر د خپل ملت ده

ته یې راز د کن فکان نو، خپلو سترګو ته عیان شه
د خودۍ اول رازدان شه، بیا د خدای پاك ترجمان شه
بنیادم تکړې تکړې کړو، هوسونو د دنیا نن
ته بیا ن د ورورولۍ شه، او د مینې خوږ زبان شه
دا هندی، خراسانی، دا افغانی، دا ایرانی دی
اې په غاړو کې ګیر سینده، راشه ټوپ کړه بېکران شه
ستا د رنګ او د نسبت، په ګرځ لړلي دي ځانګونه
او وڅنډه له ځانګو، بیا وزر وکړه روان شه

اې غافله! د ژوند راز خو، په خودۍ کې ډوبېدل دي
د صبا بېګاه ځنځیر نه، ځان وکاږه جاودان شه
د ژوندون د جنګ میدان کې د فولاډ خوی را پیدا کړه
د وریښمو غوندي پوست، د محبت په شبستان شه

تېز او تند سیلاب شه تېر شه، ته له سمې غره نه تېر شه

گلستان که راغی مخکې نو لښتی شه نغمه خوان شه [۵۳]

ماشومانو ته د انسانیت زده کړې او پوهې درس ورکوي، دی پر دې راز پوه دی چې دنیا په پوهه آبادېږي، نو له همدې کبله خپل ماشوم ته د پوهې درس ورکوي او انساني ارزښتونو ته یې را بولي، ښتن تعالی دعا کوي چې د خلکو خادم یې وګرځوي، دغه ډول پیغامونه او دعاوې د یوه داسې انسان تفکر راښیي چې هغه په ټولنه کې د عدالت او خدمت زړې شنه کوي.

تمنا مي په خوله راغله شوه دعا
کړې د شمع په شان خدایه ژوند زما
په هستۍ مي دا تیاره دنیا رڼا کړې
په ولقو مي خوره هر لور ته برېښنا کړې
او زما په برکت ښاېسته وطن کړې
لکه څنګه چې په ګلو جوړ چمن کړې
د پتنګ په شان ژوندن راکړې ته ربه
شم د علم په مشال مین زه ربه!
کار زما د غریبانو حمایت وي
د دردمنو او کمزورو محبت وي
زما خدایه له بدۍ ما په امان کړې
کومه لار چې سمه وي ما پرې روان کړې [۵۴]

اقبال د ملت یووالی په آزادۍ کېویني، د مارغه او قفس په مثال کې ور ته د آزاد ژوند نعمت ښیي. د مارغه له خولې دا فریار رسوي چې:

...

د قفس 'ښتنه راشه! د پنجرې نه مي آزاد کړه

زه قیدي یم بې زبانه، دعا واخله زړه مي ښاد کړه [۵۵]

ځوان نسل ته د بیدارۍ پیغام ورکوي او له چوپتیا یې پاڅوي، دی په فریاد

کې د زړه سکون ګوري.

بیا د هند د ځمکې پر سر وګرځي را پاڅوي چې که غږ پورته نه کړئ نو د دنیا له مخه مو نوم ورک شي. دلته د دنیا له مخه د نوم ورکېدل، د یوه ملت نابودي ده. دغه نابودي په دې کې نغښتې چې انسان خپل غږ په سینه کې بندي وساتي، د زړه خبره بیان نه کړي او د خپل ارمان لپاره هدف و نه ټاکي.

دا د چوپ عادت تر کومه، د فریاد لذت پیدا کړه
وي استوګنه دې په مځکه، او صدا دې په اسمان
که پوه نه شوئ نو به ورك شئ، واورئ ای هندوستانیانو!
شي به ورك له دې دنیا نه، هم مو نوم هم مو داستان[56]

دی غواړي چې غږ له سینې ووځي، په دې کار دی د خودۍ او خپلواکۍ د تفکر زړي کري:

آزادي د زړه شاهي ده، او د مرګ سامان ده ګېډه
فیصله ده ستا په لاس کې خوښوې زړه که شکم[57]

زړه اشنا دې د رفعت، د خوند سره نه کړلو تا
لکه پل د پښې پر مځکه، عمر تول تېر کړلو تا
د محفل سره همراز یې خو دا خپل نظر دې چیرې
د بهر د حیرتونو، نه واقف نهکړلو تا
د پې مخو په ادا، باندې دې زړه قربان قربان دی
دې آئینه کې د خپل ناز، دې دیدن ونه کړلو تا
تعصب پرېږده نادانه ! د دنیا په شیش محل کې
دغه هر یو ستا تصویر دی، چې بد وګڼلو تا
دژوندون د سوز له ظلمه، سر تر پښو فریاد فریاد شه
سپېلني غوندې دانه کې آواز غوټه کړلو تا
د زړګي د صفایي، د تعلق رنګ سره څه دی؟
په نکریزو د آېینې ورغوی ولړلو تا

مځکه څه چي آسمان هم لا، په کړو کتو دي ژاړي
د قرآن لاز دې غلطه، کړه غضب وکړلو تا
که په ژبه دي دعوه، د توحيد وکړه څه فايده شوه
د غرور او ګمان بت نه چي مولی جوړ کړلو تا[۵۸]

...

## ۴.۱۴. په زړو رواياتو کې نوې ساه پوکول

زاړه روايات د ژوند پخې تجربې دي، دغه تجربې د نوو تجربو لپاره مخينه او اساس دی، نوې تجربې د زړو او رواياتي تجربو پر پله لامنځته کېږي. د زړو تجربو زده کړه نوو تجربو ته لاره ښيي.

اقبال يوازې د رواياتو انتقالونکی نه دی، روايات د پرمختګ لپاره بيانوي، دی په دغه پرمختګ کې خپله ټولنه له دنيا سره سيالۍ ته باسي او په نرمه انتقادي ژبه مسلمان پرمختګ ته هڅوي:

دې خوا مشرق کې اصول د دين جوړېږي
ولې مغرب کې همېش مشين جوړېږي
موږ سره يو هم نه پاتې کېږي
هلته د يو نه، تين تين جوړېږي

+++

اوس له خيره جينکۍ انګرېزي لولي
ميندله قام د خير او برکت لاز
د مغرب په ډول ډال باندې نظر دی
د مشرق طريقه شوه ورلره عار

...

+++

شيخ صاحب هم، د پړدې پره دار نه دی
کالجيان تر ځنې هسي، بدګمان شول

وې ویل پرون په وعظ کې صفا ده
ستر چا ځنې چې ټول سړي زنان شول[۵۹]

اقبال پرون د نن او نن د سبا پرمختګ ګڼي، دی پرون نه هېروي، خپل پرمختګ او سبانۍ د پرون په آئینه کې ګوري:

مخکې ېدم ځان ته هغه، دور دوران د خوشحالۍ
د پرون په آئینه کې ګورم ورځه سبانۍ[۶۰]

حمزه بابا بیا د نني تهذیب آئینې ښه والی د پروني جوهر په کارېدو کې وینې:

آئینه د نني تهذیب دې ښه ده
خو جوهر پرې د ساده پرون پکار دی

زموږ یوه لویه بدبختي دا وه هغه څوک چې په عصري زده کړو پسې بهر لاړل، هغوی له بهره د علم او پوهې پر ځای پردۍ ایډیالوژۍ راوړې، دغه ایدیالوژۍ او تیوري ګانې پر دې خاوره د تطبیق او ملت ته د منلو نه وې، اقبال همدا مساله لسګونه کاله وړاندې یاده کړې ده:

زما خیال وؤ چې تعلیم به، دا نیستي زموږ کړي غوځه
څه خبر وؤ چې راځي به، ورسره سم الحاد هم[۶۱]

## پایله

د علامه اقبال د سولې او پرمختګ له تفکر او ایډیالوژۍ دا پایله راوځي چې دی د بشري خواخوږۍ، انساني تفکر، اسلامي ارزښتونو او مسلمان ادیب زړه له مخې د تلپاتې سولې، ثبات او پرمختګ لپاره ژمن انسان و، نو دده د سولې او پرمختګ تفکر په څو برخو کې مطالعه کولی شوو:

د اقبال تفکر او ذهنیت د یوه لوی انسان په توګه په ګرده نړۍ کې د سولې او ثبات ټینګښت او انسانیت ته درناوي دی. نو بشري دوستي او انسان دوستي یا انسان پالنه یې لوی هدف دی. بشرپالنه او انسان پالنه په خودۍ او ځان

پېژندنه کې نغښتې ده.

د اقبال له انده: د تلپاتې سولې، ثبات او پرمختګ لپاره د ببلابېلو فکرونو یووالی او په لویو ارزښتونو راټولېده دي.

اقبال دې پایلې ت رسېدلی دی چې د سیمې په کچه پر لوی ارزښت چې هغه د سیمې هېوادونه راټولوي او نړۍ ته د امن او ثبات فکر ورکوي، هغه اسلام دی، نو په اسلامي ارزښتونو راټولېده او ژمنتیا د مسلمانانو د یووالي ضامن دی.

اقبال د یوې ټولنې ثبات او امن د ژبو ترمنځ په یوه ګډه تفاهم او یووالی کې ويني، دده تفکر قامونه او ملتونه سره په ګډو ارزښتونو او ژمنتیا نږدې کوي. دده له نظره د ژبو وحدت او له دې لارې نږدې کېدل، د ملتونو او قامونه ترمنځ لوی ستونزې او خنډونه له منځه وړي او فاصلې را لنډوي. زړونه یو بل ته لارې جوړوي.

د خنډونو او ځنډونو لرې کول، د فاصلو لنډول او تګ راتګ په سیمه کې د تلپاتې سولې، ثبات او پرمختګ لپاره لاره برابروي. د کینو او نفرتونو دېوالونه نړوي.

دی په دې اند دی چې: ټولنیز عدالت، برابري او بشري حقونو ته درناوی د امن او ثبات ضامن دی.

له نړیوالو سره د خپلو ملي او اسلامي ارزښتونو او بشري خواخوږۍ له مخې کورکلی، چلند او راشه درشه د تلپاتې سولې، ثبات او پرمختګ لپاره لاره هواروي.

له چاپیریال سره مسوولانه او بشري چلند په ټولنه کې د امن او ثبات عامل بولي.

پایله دا راوځي چې:د علامه اقبال تفکر د یوې لویې انساني او اسلامي ټولنې حوړېده وو، ارمان یې دا و چې مسلمانان په اسلامي ارزښتونو را ټول شي، په لویه کې کې بیا مسلمان د انساني بیرغ سر لاری باله، نو که موږ کله هم

پر داسې یوه لوی انسان خبرې کوو، اړینه ده چې د هغه ارمان او تفکر ته پام وکړو، ددغه لوی انسان د تفکر، ارمان او اسلامي اصولو پر بنسټ مسلمان باید مسلمان ته د مرستې لاس ورکړي، نه دا چې له خپلې غېږې یې وشړي او د ټولنې د وګړیو ترمنځ نفاق رامنځته کړي، اوس دنیا په یوه کلي بدله شوې ده، اقبال د یوه متفکر لیکوال په توګه د ټولنې وګړي په ارزښتونو را ټولول، ځکه خو یې افغان د اسیا په کالبوت کې زړه باله، نو راځئ چې د اقبال د لارې مشالونه بل کړو، د ورورلې، باعزته تلپاتې سولې او ثبات فضا رامنځته کړو، نه دا چې افغان زوربدلی ملت له ځانه بېګانه کړو، که دا کار همداسې دوام ومومي نو د هغه لوی انسان ارمان به خاورې شوی وي چې د دغه وطن بنسټ یې ایښی دی.

که له افغان سره مینه ونشي، د نفرتونو دېوالونو یې پر وړاندې و نه نړېږي، نو د اقبال د ارمان ګلونه به مو روژلي وي او د هغه پر مفکورې به مو سترګې پټې کړې وي.

اقبال په ټوله کې نوی نسل ته د یووالي او ژوند مفکوره وړاندې کوي، دی په یووالي کې د اسلامي ټولنې پرمختګ او په ځان بسیاینه ګوري. ځوان نسل د پوهې او هنر زده کړې او د خپلو ارزښتونو پاللو ته یې را بولي.

## حواله جات و حواشي

۱ غني، دوکتور محمد اشرف، تحول او تدوام، ۱۲م

۲ خادم، قیام الدین، رښه چینه، لومړی ټوک، ۶۹۳م

۳ اسرار ورموز، ص۱۶

۴ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۳۲۷مخ

۵ اقبال، محمد، بال جبریل، کلیات اقبال-اردو، پښتو ژباره: د عبدالحلیم اثر، ۴۴۲مخ

۶ اقبال، محمد، ضرب کلیم، کلیات اقبال - اردو، پښتو ژباره: د شېرمحمد مینوش،

۶۲۲مخ

۷ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۳۳۳ - ۳۳۷مخونه

۸ اقبال، محمد، بال جبریل، کلیات اقبال - اردو، پښتو ژباره: د عبدالحلیم اثر، ۳۹۳ - ۳۹۴مخونه

۹ اسرار و رموز، ص۸۷

۱۰ اسرار و رموز، ص۸۳

۱۱ زبورِ عجم، ص۵۴۲

۱۲ **اسرار و رموز، ص۵۳**

۱۳ هاشمي، دوکتور سیداصغر، د اقبال په شعرونو کې خودي او څو نورې لیکنې، ۱۳۹۹ل.

۱۴ **زبورِ عجم، ص۴۵۷**

۱۵ **زبورِ عجم، ص۵۸۷**

۱۶ هاشمي، دوکتور سیداصغر، د اقبال په شعرونو کې خودي او څو نورې لیکنې، ۱۳۹۹ل.

۱۷ اسرار و رموز، ص۱۰۹

۱۸ اسرار و رموز، ص۲۳

۱۹ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۱۴۲مخ

۲۰ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، **۱۴۲**مخ

۲۱ هاشمي، دوکتور سیداصغر، د اقبال په شعرونو کې خودي او څو نورې لیکنې، **۱۳۹۹**ل.

۲۲ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، **۵۹ - ۶۰**مخونه

۲۳ اقبال، محمد، بال جبریل، کلیات اقبال - اردو، پښتو ژباره: د عبدالحلیم اثر، **۳۶۸ - ۴۵۳**مخ

۲۴ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، **۶۱ - ۶۲**مخونه

۲۵ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، **۳۲۹**مخ

۲۶ اقبال، محمد، بال جبریل، کلیات اقبال-اردو، پښتو ژباړه: د عبدالحلیم اثر، **۴۶۵**مخ
۲۷ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، **۱۶۸**مخ
۲۸ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، **۲۲۸ – ۲۲۹** مخونه
۲۹ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، **۵۸**مخ
۳۰ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، **۳۸**مخ
۳۱ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، **۲۳۱ - ۲۳۲**مخونه
۳۲ جاوید نامه، ص۶۴۹
۳۳ خادم، قیام الدین، رڼه چینه، دویم ټوک، **۱۰۵۹**م
۳۴ زبورِ عجم، ص۵۱۷
۳۵ زبورِ عجم، ص۴۷۴
۳۶ پیامِ مشرق، ص۲۶۰
۳۷ پس چه باید کرد، ص۸۸۱
۳۸ پیامِ مشرق، ص۲۲۲
۳۹ ارمغانِ حجاز، ص۹۵۰
۴۰ اقبال، محمد، بال جبریل، کلیات اقبال-اردو، پښتو ژباړه: د عبدالحلیم اثر، ۳۶۲مخ
۴۱ هاشمي، دوکتور سید اصغر، د اقبال په شعرونو کې خودي او څو نورې لیکنې، ۱۳۹۹ل.
۴۲ جاوید نامه، ص۷۶۶
۴۳ رفیقي، عبدالروف، د کلیات اقبال منظومه پښتو ترجمه، را ټولونه او څېړنه، ۲۰۱۵ز، ۶مخ
۴۴ اقبال، محمد، بال جبریل، کلیات اقبال - اردو، پښتو ژباړه: د عبدالحلیم اثر، ۴۹۹ - ۵۰۰مخونه
۴۵ تبسم، عارف، اقبال ریاست اور تصورات ملت، ۲۰۰۲
۴۶ پیامِ مشرق، ص۱۸۹
۴۷ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را

ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۱۹۴ – ۱۹۵مخونه

۴۸ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۱۹۶مخ

۴۹ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۲۰۵ – ۲۰۶مخونه

۵۰ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۲۲۰مخ

۵۱ اقبال، محمد، بانګ درا، د عبدالحلیم اثر ژباړه، ۷۰ ـ ۷۱مخونه

۵۲ اقبال، محمد، بانګ درا، د عبدالحلیم اثر ژباړه، ۲۳۹مخ

۵۳ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۳۱۸ـ ۳۱۲مخونه

۵۴ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۶۹ ـ ۷۰مخونه

۵۵ اقبال، محمد، بانګ درا، د عبدالحلیم اثر ژباړه، ۷۳مخ

۵۶ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۱۰۹مخ

۵۷ اقبال، بال جبریل، کلیات اقبال ـ اردو، پښتو ژباړه: د عبدالحلیم اثر، ۳۸۱مخ

۵۸ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۱۱۰ ـ ۱۱۱مخونه

۵۹ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۳۳۱مخ

۶۰ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۲۴۴مخ

۶۱ اقبال، بانګ درا، د راحت زاخېلي ژباړه، د اقبال کلیات( اردو) پښتو منظومه ژباړه: را ټولونه او څېړنه د عبدالروف رفیقي، ۲۵۹مخ